د افغانستان د ثیرنی او ارزونی واحد
د رپوټ لنديز

# په افغانستان کې ولايتي سياست او حکومتولي: د ننگرهار ولايت بېلگه




اشلي جکسن



چنگاښ ۱۳۹۳



۱۲ کاله
باکیفیته ثیړنه

ثیړني د ښه
افغانستان
لپاره
AREU

ژباړن: حفیظ الله معروف

طرح او دیزاین: احمد سیر علمیار

د خپرونی کود: ۱۴۱۵P

© ۱۳۹۳د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد. ټول حقونه خوندي دي. دا خپرونه بڼايي بیاځلي تولید، آرشیف او د غیر اقتصادي موخو لپاره ولېږل شي، چې په دې صورت کې بې د لیکلو اعتبار په لیکوال پورې اړه لري. که دا خپرونه بیا ځلي تولید، ذخیره یا د وېبپاڼې له لارې خپرېږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد ویبپاڼه www.areu.org.af باید ورسره وي. د موادو د کاپي کولو لپآره باید د خپرندویه مرکز لیکلي اجازه واخیستل شي. په لاندې برېښنا لیک او ټلېفون لیکلي اجازه ترلاسه کولی شي.

## د لیکوال په اړه

اشلي جکسن یوه خپلواکه څیړونکي او لیکونکي ده. هغې له ODI انسټیټیوټ سره په لندن کې، په اکسفام ، او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی سره دنده ترسره کړې ده.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څېړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څیړنو له لارې پرپالیسۍ او چاروم‌ثبتې اغیزې دي، او همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څیړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه ، د څیړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څیړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې د ترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو ، مدني ټولنې، څیړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څیړنېزې وړتیا د پیاوړي کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ (AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه یو بورد لري چې د مرستندویو ادارو، ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري. AREU اوسمهال د خپلو مرستو ډېره برخه د فیلنیډ له سفارته، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA) او د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس له ادارې (SDC) څخه تر لاسه کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمېسیون (EC)، د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سوېس ادارې (SDC)، د نړیوال پرمختګ انسټیټیوټ (ODI)، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې (UNDP)، نړیوال بانک، د منځنۍ اسیا پوهنتون (UCA)، د امریکا د سولې انسټیټیوټ (USIP)، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې (GmbH)، (GIZ) او د فیلینډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.

## لنډیز:

د افغانستان حکومت ډېر وخت نازک او ویشلی ښکاري. خو له دې سره سره، مرکزي حکومت په دې کې پاتې راغلی، چې په ډېرو برخو کې اغېزناک اقدامات وکړي. په ځانګړي ډول، له پلازمینې ور هاخوا په ولایتي کچه نظم هغسې چې لازم دی، نشته. په دې څېړنه کې هغه پروګرامونه او کړنلارې (پالیسۍ) څېړل کېږي، چې پرمټ یې د نړیوالې ټولنې د حکومتولۍ او خدمتونو نظریې رامخ ته کېږي او په ورته وخت کې د خپلو پلټنو له مخې په ولایتي او سیمه ییزه کچه د واک ترمنځ ټکر(تصادم) ته هم پکې کتنه کېږي.

له دریېو بېلګو نه په لومړۍ بېلګه کې، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره او د پرمختګ د ښار بنسټ او د معیشت د پلټنې کنسرسیوم د یوې برخې په توګه هڅه کوي چې سیمه ییز سیاسي تحرکات او حکومتولي روښانه کړي. ننګرهار ځکه غوره شوی، چې په ختیځ کې خپل مرکزیت لري، دیوه ځانګړي هویت په ډول په سیمه ییزه کچه د واک مرکز دی، له جغرافیایي پلوه خورا مهم او پاکستان ته نژدې پروت ولایت دی او بالاخره له دې امله هم مهم بلل کېږي، چې له ۲۰۰۱ میلادي کال را پدې خوا پکې په پراخه کچه امریکایي ځواکونه میشت وو او غوښنه برخه مرستې هم ورته رسېدلې دي.

د دې څېړنې موخه دا ده، چې سیمه ییزې حکومتولۍ او د عامه خدمتونو لاسرسي ته کتنه وکړي. د نړیوالې ټولنې د حکومتولۍ اجنډا پرلپسې په دې کې پاتې راغلې، چې په مناسب ډول د افغان حکومت بنسټونو ته، چې د اړیکو پر بنسټ ولاړ دي، پام وکړي او کارونه یې وګوري. نارسمي شبکې او ټولنیزې اړیکې په مسلسل ډول په دولتي او نادولتي ادارو کې- سرچینو او واک ته په اسانۍ لاسرسی پیدا کوي. نو باید هڅه وشي، چې په عملي ډګر کې د واک د اړیکو په اړه معلومات ترلاسه شي، ځکه همدغه اړیکې د دې سبب ګرځي، چې د نړیوالې ټولنې له خوا د رامنځ ته شوي حکومت کړنې له هغه څه بېلې کړي چې یو حکومتي سیستم یې باید وکړي.

# ولايتي سياست او حکومتولي

په ننګرهار کې د اړيکو پر بنسټ جوړ شوی حکومت لا هم په پراخه کچه د مجاهدينو د مشرانو تر اغيز لاندې دی. د دغو مجاهدينو مشران د ارسلايي کورنۍ غړي دي، چې له ۲۰۰۱ ميلادي وروسته په ختيځ کې سياسي نفوذ لري. د ننګرهار پخواني والي حاجي دين محمد، د ولسي جرګې غړی حضرت علي او نور مشران په دغه ولايت کې د ګل آغا شيرزي پروړاندې يو شوي وو. د بن له سياسي پريکړو وروسته، همدغو کسانو يا هم د انتخاباتو له لارې او يا هم د انتصاب له لارې په حکومت کې ځانونو ته پوستونه پيدا کړل. دوی د خپلو نارسمي شبکو په اډانه کې د خپلو پوستونو د خوندي ساتلو لپاره دولتي سرچينې تر لاسه کړې.

هغو کسانو ته، چې د جګړې له لارې يې واک ترلاسه کړی، د بن پريکړې يو اخې ديوې سترې معاملې په ډول ښکاري. وروسته همدغه د بن پريکړې د ولسواليو او ولايتونو په کچه د معاملو په ډول وغځېدې.

که د افغانستان په تيرو دريوو لسيزو تاوتريخوالو کې بيلا بيلو طبقو ته وګورو، نو د کليوالو سيمو پخواني مشران په اغيزمن ډول بې ځايه شوي او واک ترې اخېستل شوی دی. د دوی ځايونه پخوانيو قومانداناو او پياوړو خلکو نيولي او خپله واکمني يې پکې چلولې ده. د طالبانو د واکمنۍ له را پرځېدو وروسته، د لومړنيو کلونو په تاوتريخوالي کې د دغو کسانو انحصار دې ته لاره اواره کړه، چې واک ترلاسه کړي، سرچينې ونيسي او خپل ځانونه په حکومت کې وګماري. نو په دې ډول، دوی د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کال په ټاکنو کې خپل رول ولوباوه. د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال د ولايتي او ملي شوراګانو په ټاکنو کې دوی وټاکل شول او په دې ترتيب يې ولايتي سياستونه تر اغيز لاندې راوستل، چې ښه بېلګه يې ظاهر قدير او جمال قدير دي.

په ۲۰۰۵ کال کې ګل آغا شيرزی د ننګرهار والي وټاکل شو او په بشپړ ډول يې هلته موجود دغه ډول نظم ګډوډ کړ. سرچينو ته يې په رسمي او نارسمي ډول د لاسرسي او په سياسي مانورو کې د سياليو او جوړ جاړيو نوي چوکاټونه را منځ ته کړل. شيرزی، چې تازه له کندهار تللی و، مجبورو چې سيمه ييز ملاتړ را جذب کړي. هغه د خارجي سرچينو په ګډون، د شيرزي صندوق په نوم پيسې، چې په سرحد کې اخيستل کيدې، هم ټولولې. هغه دا کار د دې لپاره کاوه، چې د بيارغونې په نوم پراخ کمپاين وکړي او د دې کمپاين لپاره يې مرکزي بودجه خپل ولايت ته کمه بلله.

له کليوالو مهمو مشرانو سره د هغه اړيکو دې ته زمينه برابره کړه چې د نړيوالو اساسي غوښتنې پلې کړي، چې بېلګه يې د کوکنارو د کښت له منځه وړل وه او په مقابل کې يې امريکايي پوځ ملاتړ کاوه. شيرزي د امريکايي ځواکونو له ملاتړ نه دخپلو سيالانو په ګوابنلو کې ګټه اخيسته او په دې ډول يې له ولايتي بيارغونې ډلې- پي آر ټي نه مالي او نورې امنيتي ګټې تر لاسه کولې.

د شيرزي دغې تګلارې دخلکو ژوند ته هوساينه ورکړه، ځکه داسې نارونښانه تګلاره يې رامخ ته کړه، چې په سيمه ييزه کچه د حکومت پوستونه او ادارې په غيرې ارادي ډول توانيدې چې په ملي او محلي کچه د جوړ جاړيو خبرې اترې وکړي.

په نظام کې اداري فساد، د حکومتي بودجي له حده ډير مرکزي کيدل او قدرت د دې لامل ګرځيدلي، چې د شيرزي په څير اشخاص، چې له نظام څخه بهر پراخو سرچينو ته لاسرسی لري او غواړي قانون پلی کړي، بې واکه شوي دي.

خو د ځانګړو اشخاصو او کارکوونکو له خوا دغه ډول د عامه خدمتونو وړاندې کول په ننګرهار کې دخپل ځآن لپاره کيدل. کله، چې په حکومتولۍ او يا هم دخدمتونو په وړاندې کولو کې پرمختګ کيږي، او مشري يې هم دشيرزي په څير چاروا کي پر غاړه وي، نو سم لاسي لومړی پکې خپلې ګټې را نغاړي او د حکومتي بنسټونو پر اړيکو تکيه کوي.

په ختیځ کې د شیرزي واکمنۍ، په دغه سیمه کې د امریکایي ځواکونه شته والي او د نړیوالې ټولنې له خوا د هغو سرچینو د تر لاسه کولو لپاره د مشرانو ترمنځ سیالي هم رامنځ ته کړې، چې د امنیت د ټینګښت او د اپینو د له منځه وړلو لپاره په پام کې نیول شوې وې.

امریکایي پوځ او هغه ډېرې پیسې چې دوی راوړې وې، په ختیځ کې یې داسې یو سیستم رامنځ ته کړ، چې د سیاستوالو ترمنځ یې بیلوونکې اوګټونکې پیدا کړ. شیرزي د خپل حکومت په لومړیو کلونو کې د امریکایي ځواکونو پر ملاتړ تکیه کوله او د حضرت علي په څېر نورو زورواکانو بیا هڅه کوله چې له سیالانو سره د خپلې سیالۍ لپاره د امریکایي ځواکونو له اغیز نه کار واخلي، خو له دغه اغیز نه برخمن نه شول.

حضرت علي پر امریکایي ځواکونو له خپل اغیز نه کار واخیست او دا یې ډاډ منه کړه، چې په ولایتي کچه په امنیتي ځواکونو کې ده ته وفادار کسان جذب کړي او دارنګه یې په شخصي امنیتي کمپنیو کې هم خپل کسان وګمارل.

د ګل آغا شیرزي تګلارې د یو څه وخت لپاره کار وکړ خو په واک د هغه پاتې کیدو په ختیځ کې د هغو کسانو له خوا ، چې ځانونه مجاهدین بولي له ۲۰۱۰ کال وروسته ونګول شو. د شیرزي دوه اصلي رقیبان د ارسلایي کورنۍ ورونه وو. ظاهر قدیر، چې په ۲۰۱۰کال کې ولسي جرګې ته وټاکل شو او د هغه ورور جمال قدیر چې په۲۰۰۹ کال کې یې ولایتي شورا ته لار پیدا کړه. دوی د شیرزي پرضد نیابتي جګړه پیل کړه، پر هغه یې د ځمکې د غصب تورونه پورې کړل او پلازمینه کابل کې یې ظاهرا د هغه پرضد سیاسي لاریونونه هم را پورته کړل. جمال قدیر او د هغه پلویان پر شیرزي د بریدونو لپاره په دې بریالي شول، چې ولایتي شورا تر خپل اغیز لاندې راولي او دې ته لاره اواره کړي، چې په دغه ولایت کې پر سرچینو لا ډېره خیټه واچوي. دغو تکتیکونو، په ننګرهار کې مخ په ډېریدونکو ناارامیو او د کوکنارو د کښت زیاتوالي په بشپړ ډول په دغه ولایت کې د والي په صفت د هغه پوست سخت زیانمن کړ. د ۲۰۱۳ کال په اکتوبر کې هغه له ولایته استعفا ورکړه، چې د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو لپاره ځان کاندید کړي.

## موندنې او سیاسي سپارښتنې

په ۲۰۰۵ کال کې، د ننګرهار د والي په صفت د ګل آغا شیرزي ټاکل کیدو دا ذهنیت ښه روښانه کړ، چې پیاوړي خلک د بنسټ د پخولو لپاره له عامه خدمتونو څه ډول کار اخلي. دا یوه ځانګړې بیلګه کیدای شي، چې له بل ځایه راغلی شخص د دغو تکتیکو په مرسته څنګه کولای شي، محلي نظام رامنځ ته کړي. شیرزی، چې له کندهاره راغلی و او هیڅ ډول سیمه ییز ملاتړ یې نه لاره، اړ و چې د خلکو په منځ کې ملاتړ پیدا کړي. د شیرزي فساد یوائې تر هغه مهاله دمنلو و، چې په منظم ډول یې اداره کولای شوای. کله، چې امنیت ورځ تر بلې په خرابیدو شو، عامه ذهنیتونه د نړیوالو ځواکو پرضد شول او د ظاهر قدیر په مشرۍ د ده مخالفان راپورته شول، نو د ګل آغا شیرزي سیاسي واک او شهرت ورو ورو مخ په کمیدو شو.

خو له دې سره سره، په ننګرهار کې قومي مشران او پخواني قومندانان د دغه ولایت د حالاتو د ښه کیدو لپاره چندانې ګټور ثابته نه شول. ارسلایي کورنۍ، چې د ننګرهار په حکومت کې لږه یا ډېره ونډه خپل میراثي حق بولي، ښایي ډېر رول ولوبوي. د حاجي دین محمد او ظاهر قدیر په تکتیکونو کې د عامه خدمتونو ویش په پرتله ییز ډول خورا کم وه. د دې پر ځای، چې دوی په ټولنه کې د خدمتونو د وړاندې کولو له لارې او یا هم د ښې حکومتولۍ له لارې ملاتړ راجذب کړي، دوی د شیرزي حکومت ته ستونزې رامخ ته کولې او د هغه ملاتړي یې ننګول. خو که په کومو ځایونو کې یې عامه خدمتونه وړاندې کړي هم وي، هغه یې د خپلو شخصي ګټو لپاره کړي دي.

د دې کار تر ګردو ښه بېلګه حضرت علي دی، چې په دره یې نورکې یې د امنیت د ټینګښت لپاره هغو کسانو ته وسله ورکوله چې جګړه یې کولای شوای او یا یې په امنیتي کمپنیو کې شاملول خو هغه خپلو پلویانو ته ډیر څه ورنه کړل.

له دغو تکتیکونو پرته، ډیر نور خلک هم پردندو وګمارل شول، خو دا ډیره د حیرانتیا خبره ده، چې دوی دغه خدمتونه د خپل ځآن لپاره نه برابرول. کله، چې په حکومت کې ځینې پرمختګونه کیږي او یا هم د دغو حکومتي چارواکو په مشرۍ خلکو ته خدمتونه وړاندې کیږي، نو دوی یواځې دغه کار د خپلو شخصي ګټو لپاره کوي او خپلو ګټو پسې ګرځي.

دغه څېړې، د هغو کسانو له لارې چې دوی ته وفاداره دي، په حکومت او یا هم له حکومت څخه د باندې په ملکی برخو کې د دوی د ګمارنې له لارې مداخله کوي او په اختلافاتو کې برخه اخلي. د بېلګې په ډول که سړکونه رغول کیږي، لومړۍ انګیزه چې دوی یې رامخ ته کوي د سړکونو جوړول او د عامه خدمتونو پیاوړي کول نه دي، بلکې د دوی هڅه دا وي، چې د سړک د رغولو قرارداد خپلو پلویانو ته ورکړي او له دې لارې نه د واک خاوندان مالي سرچینو ته لاره پیدا کړي.

شیرزی په روښانه ډول د خلکو د اړتیا وړ او د عامه پروژو په ویش کې برخه لرل او په دې ډول یې د سیمه ییزو خلکو ملاتړ هم را جذب کړ. هغه غوښتل په دې کار سره د خلکو او په ځانګړې ډول د امریکایي ځواکونه په ذهن کې د خپل ځآن په اړه داسې ذهنیت راپورته کړي، چې ګنې پر ولایت پوره واک لري. همدغه شان، حضرت علي هم د خپلو ګټو د خوندي کولو لپاره په امنیتي بنسټونو کې هغه کسان وګمارل، چې د ده پلویان وو. ډیری دغه پښه یان غریب دي، زده کړې یې کمې دي او داسې کسان پکې دي، چې له لریو ولسوالیو سره تړاو لري او هڅه یې هم دا وه، چې له نورو لارو دغه ډول د ندې ځانته پیدا کړي. دا له امکان لرې خبره نه ده، چې د عامه ښیګڼو او د اندیښنو په اړه د حضرت علي تکتیکونو پام ځآن ته را اړولی دی. د دې پرځای، چې د حضرت علي پلویان هغه ته په امنیتي ځواکونو کې پراخ ځآی ورکړي، په ننګرهار ولایت یې کې د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته د غلته د ځواکونو ترمنځ د ویش اندیښنه راپورته کړې ده.

دغه ډول خبرو، په لویه کې د جنګسالارانو او قدرت مندو کسانو په اړ داسې بحثونه راپورته کړل، چې ایا دغه ډول اشخاص د عامه خدمتونه د وړاندې کولو انګیزه رامنځ ته کولای شي. دغې څېړنې په ډاګه کړه، چې دغه ډول اشخاص د دولت په رغولو کې هیڅ مثبته انګیزه نه شي رامنځ ته کولای. مشروعیت او واک، دوی تل له حکومتي او نا حکومتي سرچینون نه په اجباري ډول تر لاسه کړی او یا یې هم تر کنټرول لاندې ساتلی دی. د هغو تکتیکونو بیرته په ځای کول، چې د عامه خدمتونه وړاندې کول تعبیر کړي او دواړه اړخونه ترې ګټه واخلي، محدود دي. لکه د بېلګې په ډول په امنیتي ځواکونو کې د حضرت علی او پښه یانو استازیتوب او یا هم لکه په ۲۰۰۵ کال کې د ګل آغا شیرزي په ډول چې نور غوراوي یې هم لرل.

په بله مانا، ټول عامه خدمتونه کیدل خو په ناقصدي ډول یې اغیز سم نه وه. دغو قدرتمنو کسانو او د هغوی شبکو په ژوره توګه د هیواد په ټولو برخو کې نفوذ کړی، حکومتي بنسټونه یې په پراخه کچه اغیزمن کړي او له لویه سره یې په بشپړ ډول هغه نوي راټوکیدونکي بنسټونه تر تاثیر لاندې را وستي، چې د افغانانو اړتیاوې پوره کړي.

دا روښانه نه ده، چې نړیوالې ټولنې له غو کسانو سره، چې دولت یې انحصار کړی، کومه منظمه تګلاره لرله. د پالیسۍ او پروګرام جوړونې له مخې، سیمه ییزه حکومتولي له ډیرې پخوا راهیسې هیره شوې ده. کله، چې د نړیوالې ټولنې په اجنډا کې دغسې مسلې ته پام شو، نو د توافق لپاره یې واحده تګلاره نه وه.

په ختیځ کې نړیوالې ټولنې شیرزي (( او حضرت علي او نورو مجاهدینو ته، چې د امریکا له سخاوتمندانه نعمتونو برخمن وو )) ته د ډیر باور من کس په سترګه کتل. هغه ته د یوه بد سړي په ډول کتل کیدل خو لږ تر لږه نړیوالې ټولنې ویل، چې هغه زموږ

سرې دي. د طالبانو د بیرته را ژوندي کېدو په اړه شته اندېښنو، دوامداره ملاتړ او د قانوني حکومتولۍ لپاره نړیوالې ټولنې د همدغو قدرتمندو کسانو او د باوري لوبغاړو ملاتړ وکړ او هغوی ته یې په پراخه کچه سر چینې او کنټرول ورکړ. دغو توپیرونو ته په پام سره، د ملکي حکومتولۍ پروګرامونو ((چې د ملګرو ملتونو له خوا پلې کېدل او لویو بسپنه ورکوونکو یې مالي ملاتړ کاوه)) د بنسټونو جوړولو ته پام اړاوه. خو دغه هڅې چې ډېرې سستې وې او د هغو په پرتله چې امریکایي ځواکونو یې مالي ملاتړ کاوه، لږ حمایه شوې او د هغو سیاسي لوبغاړو له ګټو سره مخامخ په تضاد کېوتل چې د هیواد پر سرچینو یې کنټرول غوښته. اصلاحاتو ته په هغو ځایونو کې اجازه ورکول کېده، چې دوی به پکې له ګواښ سره مخامخ نه وه او نړیوالې ټولنې هم د همدغو نیمګړو دروغینو بریالیتوبونو یادونه کوله.

سره له دې چې نړیوالې ټولنې سیمه ییزې حکومتولې ته پام اړولی او په دې برخه کې یې پیسې هم لګولې، خو اساسي بدلونونه یې لږ رامنځ ته کړې دي. په بنسټونو کې د اصلي بدلونونو پر ځای، په پراخه کچه د نویو بنسټونو پر جوړېدو خبرې کېږوې.

په ننګرهار کې اصلاحاتو ته یو اځې په هغو سیمو کې په لویه کچه د پلې کېدو اجازه ورکول کېده، چې هلته د ولسوالانو له خوا ګمارل شویو کسانو ته یې ګواښ نه رامنځ ته کاوه. ډېر وخت په چارو کې لاسوهنې دهغو زورواکانو له خوا کېدې، چې له واکه لرې شوې وو او په ګډه یې دخپلو اهداف پرېکړې کولې. که څه هم ځینې وړ کسان په کارونو ګمارل شوي خو دغه کسان له واکمنو اشخاصو او شبکو سره له نارسمي تړوا پرته دخپلو دند په ترسره کولو کې حیران وو.

د خپلو شخصي ګټو لپاره د رسمي بنسټونو ترلاسه کولو دې ته لاره اواره کړه، چې د سیمه ییزې حکومتولۍ په بنسټونو کې روڼتیا ورکه کړې. په ولایتي کچه، د والي او ولایتي شورا دندې همدغسې لانجمنې پاتې شوې او تعبیرونو ته یې لاره برابره کړه. دا کار د دې لامل شو، چې د ولایتي شورا مشر جمال قدیر، د څآرنې د مبهمې دندې په پام کې نیولو سره، له شیرزي سره جګړه پیل کړي. پر مرکزیت ډېر تمرکز او د اړوندو وزارتونو له خوا خپلو ریاستونو ته د مالي سرچینو نه لیږدولو، پر پیاوړو والیانو لا تکیه ډېره کړه، چې د لومړنیو خدمتونو د وړاندې کولو او په ورته وخت کې د ولایتي بنسټونو د کارونو لپاره باید (سب سایډي) ورکړي.

په ډېرو پروګرامونو او مالي سرچینو کې ((چې همغږي پکې کمه وي او سیالي پکې ډېره))، قانون ماتوونکي په دې بریالي شوي، چې په پلې کېدو یې خپل پراخ اغیز پیدا کړي او په خپله شخصي ګټه یې وکاروي.

د ولسوالیو په کچه، د دولتي کمزورو بنسټونو ترلاسه کول تر نورو ډېر حس شوې دي او په ملي کچه د ولسوالیو د شورا ګانو د ماموریت په اړه د عمومي توافق نشتوالي دخلکو داړتیاو په پوره کېدو کې د دغو شوراګانو توانایي اغیزمنه کړې ده. دغه کار په ولسوالیو کې خدمتونو ته د چارواکو لاسرسی محدود کړې او پرمختیایي کارونو هم ښه پایله نه ده ورکړې. د بن د غونډې له پریکړو وروسته، په یوه لسیزه کې پرحکومتولۍ د اصلاحاتو په موخه د میلیونونو ډالرو لګښت د پام وړ دا ناروښانتیا رامنځ ته کړې، چې لاهم د ولسوالیو په کچه په حکومتولۍ کې لومړني اصلاحات هم نه دي راغلي. د پرمختیایي شوراګانو د معرفي کېدو په ګډون داسې نوې لارې چارې هم رامنځ ته شوې، چې د ولسوالیو د چارواکو او مشرانو نقش د بیلا بیلو پروګرامونو لارې په سم ډول وازمایي او ځینې دغه پروګرامونه او تګلارې، چې لاهم دوام لري، په ټکر کې وي.

ښایي د دغه ډول ناروښانتیا مخه د بسپنه ورکوونکو هیوادونو د سمې همغږۍ په مرسته نیول شوې وای خو ستونزه له دې هم ژوره شوه. د حکومتولۍ ډېری دغه پروګرامونه داسې ښیي، چې ممکن د ولایتي مرکزونو تر شا به هیڅ هم نه وي، خو حقیقت دا دی چې د سیمه ییزې حکومتولۍ دغه پیچلی سیستم له ډېرې پخوا پر خپل ځای دی. په ختیځ کې دغه دودیز بنسټونه او د اړیکو پر مټ رامنځ ته شوې شبکې خورا پیاوړې دي او مشروعیت یې هم ځآنته ورکړی دی. ((په ځانګړي ډول، که چیرې ختیځ

له جنوب سره پرتله کړئ، چیرته چې دغه ډول جوړښتونه ښايي ډېر جنجالي او نازک وي) ) پرته له دې، چې په لرېو پرتو سيمو کې له حالته ځان خبر کړو، ښايي له بهره د دوی پر سر د نورو جوړښتونو مقررول به کار ونه کړي. د اغېزمنې حکومتولۍ د رامنځ ته کولو لپاره، دغه نوښتونه بايد د پېچلو حالاتو په اړه پوره معلومات ولري او له حالاتو سره ورته والی ولري. د ولسواليو په پرمختيايي شوراګانو کې بايد داسې اغېزمن او پياوړي خلک موجود وي، چې خپل ماموريت تر سره کړای شي.

د امريکايي سرتيرو وتلو او د هغو مالي سرچينو کموالي چې دوی برابرول، له وړاندې په سيمه ييز اقتصاد او سياست اغيز پرې ايستی دی. دې چارې پر هغو کسانو چې واک لري او د امريکا له پوځ نه يې مالي ملاتړ تر لاسه کاوه، په خپلو سيمو کې يې پرې رښتينی اغيز کړی. د نړيوالې ټولنې د مالي سرچينو او توجه په کميدو به، خلکو ته دخدمتونو د وړاندې کولو انګيزه لا ډيره په هغو کسانو کې کمه شي، چې واک لري. خو سيمه ييزو مشرانو له هغو پيسو نه چې د کوکنارو د له منځه وړلو او د خلکو د زړونو د ترلاسه کولو د پروژو لپاره ورکول کيدې، خپل ځانته هم ګټه اخيسته. د بهرنيو ځواکونو وتلو او په پايله کې يې د پيسو دريدو، په ټولنه کې دهغوی اعتبار کمزوری کړ. د دې کار ښه بېلګه په ختيځ کې شيرزی دی، چې ډيرو خلکو اوس بيرته د کوکنارو کښت ته مخه کړه.

په ننګرها کې سياسي حالت وروسته له هغه يو ځل بيا بدليدونکې دی، چې د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کال د ټاکنو لپاره ګل آغا شيرزي له خپلې دندې استعفا وکړه. دا به ژر روښانه شي، چې د نويو ګمارنو له مخې به په دغه ولايت کې بيرته هغه پخوانی ټولنيز نظم رامنځ ته شي که څنګه. خو له دې سره سره، د بدلون لپاره داسې يوه فرصت ته اړتيا ده، چې دنړيوالې ټولنې د مداخلې لارې چارې له سره و ارزوي. دننګرها خيړنه دا په ډاګه کوي، چې داسې يوې نوې لارې ته خورا اړتيا ليدل کيږي، چې له مخې يې د افغانانو لپاره سم پرمختګ او دوامدره حکومتولي رامنځ ته کړي.

AREU

د ښه څېړنې افغانستان لپاره

۱۲ کاله

باکیفیته څېړنه

ټولی خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړی شی.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.

**افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**
دحاجي يعقوب له څلور لاری څخه د شهيد د
څلورلاري په لور، کين اړخ ته دريمه کوڅه، ۱۴۴
کور، نوی ښار، کابل، افغانستان
تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+
بریښنالیک:publications@areu.org.af
ویب پاڼه:www.areu.org.af